# د ۱۳۹۳ کال د ولایتي شوراګانو ټاکنو احتمالي کاندیدانو لپاره لارښود

د ټاکنو خپلواک کمیسیون د هیواد د ټولو ولایتونو په ولایتي دفترونو کې د کاندیدانو د نوموني مرکزونه پرانیزي چې د ۱۳۹۳ کال ولایتي شوراګانوپه ټاکنو کې د ونډې اخیستلو په موخه د نوموني غوښتنلیکونه ترلاسه کړي، په شرطونو برابرو غوښتونکیو ته بلنه ورکول کیږي چې د خپلو غوښتنلیکونو د ورکولو په موخه د ۱۳۹۳کال د وري د میاشتې د ۲۵مې نیټې څخه د ۱۳۹۳کال د تلې د میاشتې تر ۱۴ مې نیټې پورې په خپلو ولایتونو کې د نوموني دفترونو ته مراجعه وکړي.

## د کاندیدانو د نومونې او معلوماتو ورکونې بهیرڅه شی دی؟

د کاندیدانو د نومونې بهیر به د روان کال د وري د ۱۸مې نیټې څخه تر ۲۴ مې نیټې پورې د ۷ ورځو لپاره دوام وکړي، پدغه موده کې احتمالي کاندیدان او یا هم د هغوی استازي کولای شي چې د نومونې پاکټونه کوم چې د هغو فورمو، اړینو مالوماتو او لارښودونو لرونکي دي چې په ټاکنو کې د ونډې اخیستنې په موخه د نومونې د غوښتنلیک لپاره بنسټیز ګڼل کیږي، ترلاسه کړي.

## د کاندیدانو د نومونې لپاره د غوښتنلیک بهیر څه شی دی؟

په اړونده ولایتونو کې د کاندیدانو د نومونې مرکزونو ته د مراجعې له مخه غوښتونکي باید لاندي سندونه او مواد شخصا وړاندې کړي :

- د تابعیت تذکره او د رأیو ورکوونکو د نوم لیکنې کارت .
- په پښتو او یا دري ژبو د غوښتنلیک بشپړه شوی فورمه.
- د رای اچونې په شرطونو د برابرو د ۲۰۰ څخه تر ۶۰۰ پورې ملاتړو کسانو نوملړ او د رای ورکونې د کارتونو شمیرې چې د هغوی ګوته پرې لګیدلې وي د دې سند سره د ضمیمه شوي جدول پر بنسټ.
- د شل زرو (۲۰۰۰۰) افغانیو پیش شرط یا امانت پیسو د ورکړې ( بانکي رسید ) د کاندید د انتخاب یا د اچول شویو رایو د ۲ سلنه د تر لاسه کولو په صورت کې ورته بیرته ورکول کیږي .
- په هغه فورمه کې چې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون لخوا چمتو شوې د غوښتل شویو مالوماتو سره سم د کاندید ټوله منقوله او غیرمنقوله شتمني ثبتول.
- د دولتي رسمی روغتیایی مرکز څخه د کاندید روغتیایي تصدیق
- لږ تر لږه د بکلوریا په کچه تحصیلي سند

## د غوښتنلیک په بهیر کې ، غوښتونکی باید :

د غوښتنلیک فورمه لاسلیک کړي چې ثابت کړي غوښتونکی :

- د اساسي قانون او دټاکنو قانون سره سم دشرایطو وړ دی
- ټول اړونده قوانین او دکاندیدانو چلند اصول چې دټاکنو دخپلواک کمیسیون له خوا تصویب شوي دي رعایتوي .
- د محکمې له خوا د بشرضد جرایمو په ارتکاب، جنایت اویا له مدني حقونو څخه په محرومیت محکوم شوی نه وي
- په هغه صورت کې چې قانون لازمه ګڼلې وي د خپل دولتي سمت څخه استعفا ورکول
- د خپلې کاندیدنې تائیدول
- د ټاکنو په قانون کې د درج شویو پستونو څخه تصدیق او طی مراحل شوی استعفا لیک وړاندې کول .
- د امانت پیسو د رسید او د ملاتړود ګوتو نښانونو فهرست وړاندي کول
- د کاندید لخوا د منقولو او غیر منقولو شتمنیو اړوند د کمیسیون د مشخصې ډکې شوې فورمې وړاندې کول .
- د رای ورکونې په پاڼه کې د چاپ په موخه د نوم لیکنې په مرکز کې د انځور اخیستل .
- د نوماندۍ لپاره د سیاسي ګوندونو لخوا ملاتړ کیدونکي، او خپلواک غوښتونکي (متقاضیان)باید له هغو نښانونو څخه چې د ټاکنو خپلوک کمیسیون د نښانونو په لړلیک کې موجود دي ګټه واخلي، دا نښان د هر کاندید د نوم او انځور تر څنګ د رای ورکونې په پاڼه کې چاپ کیږي .

کله چې دیوه احتمالي کاندید غوښتنلیک بشپړ او وړاندې کیږي ،یا د شوي معلومات څیړل کیږي . دټاکنو خپلواک کمیسیون د کاندیدانوابتدایي لړ لیک (فهرست) خلکو ته د خبر تیا په موخه د ۱۳۹۲ کال د تلې ( میزان) په ۲۷ نیټه خپروي چې د شکایتونو او اعتراضونو زمینه به شونې کړي. دکاندیدانونهایي لړلیک ( فهرست) به د اعتراضونو له څیړلو، سمونواو غورورروسته د ۱۳۹۲ کال د لړم (عقرب) په ۲۵مې نیټه خپور شي .

د کاندیدانود نا مزدۍ دوره د وږی له ۲۵مې نیټې څخه د تلې تر ۱۴مې نیټې پورې د ۲۱ ورځو لپاره دوام کوي . د نامزدۍ دفترونه هره ورځ دسهار له ۸ بجو څخه د مازدیګر تر ۴ بجو پورې په استثنا د ( پنجشنبې له ۸:۳۰ څخه تر ۱:۳۰پورې ) به پرانیستي وي .

د زیاتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ په خپلو اړوندو ولایتونو کې د کاندیدانو د نومونې له مرکزونو سره اړیکې ټینګې کړئ.